# که بني آدم د مال دوه ناوونه (یا درې) ولري، نو دریم به یې هم غوښتلی و

له انس رضي الله عنه څخه روایت دی وایي چې رسول الله ﷺ فرمایلي: «که بني آدم د مال دوه ناوونه (یا درې) ولري، نو دریم به یې هم غوښتلی و، او د انسان ګېډه له خاورې پرته بل څه نه شي ډکولی، او الله تعالی چې چاته وغواړي نو د توبې توفیق ورکوي».
[صحیح دی] [متفق علیه دی]

نبي ﷺ خبر ورکړی چې که بني آدم یو ناو (دره) له سرو زرو ډک ترلاسه کړي، نو د طبیعي حرص له امله به د دوو نورو هیله هم وکړي، او انسان د دنیا د حرص څخه تر مرګه نه خلاصیږي، مګر چې مړ شي او ګېډه یې د قبر له خاورو ډکه شي.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/4963